# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲٤۷ ګڼه / سه شنبه ۰۷ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۳۱ اسد ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۲ آګست ۲۰۲۳ میلادي


## مولوي عبدالکبیر: د دولتي ادارو دروازې د خلکو پر مخ خلاصې دي

د ریاســت الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر ورمه د خوســت ولایت د بېلابېلو سیمو له یو شمېر مخـــورو او مجاهدینو ســـره وکتل. په دې کتنه کـــې، دغو مجاهدینو د خوســـت د قومونو په استازیتوب د اسلامي امارت ملاتړ اعلان کړ او زیاته یې کړه، هماغســـې چې یې د اشـــغال پای ته رسولو او د اسلامي نظام استحکام لپاره قرباني ورکړې ، اوس هم د اســـلامي نظام ساتنې لپـــاره هـــر ډول قربانۍ تـــه چمتو دي.دوی زیاتـــه کـــړه، د ولس له بېلابېلو اقشـــارو ســـره د اسلامي امارت د مشـــرانو لیدنې مثبت ګام دی او ټول خلک په دې کار خوښ دي.په ورته وخت کې د ریاســـت الوزرا سیاسي مرستیال په دغه کتنه کې د خوست د مجاهدینو او ولس قربانۍ وســـتایلې او ویې ویل چې په افغانســـتان کې د قومونو یووالی د دې ســـبب شـــو، چې اســـلامي امـــارت بریالی شـــي او حکومت هڅه کوي د قومونو ترمنځ یووالی او اتحـــاد وســـاتي.نوموړي زیاته کړه، چې اســـلامي امارت د خلکو قربانـــۍ نه هېروي او په اسلامي نظام کې د ټولو سربښندنو ته د قدر پـــه ســـترګه کتل کېږي. د ریاســـت الوزرا سیاســـي مرستیال همدارنګه وویـــل چـــې د حکومتـــي ادارو دروازې د خلکو پر مخ پرانیســـتې دي او ولس کولای شي هر وخت پـــه پوره جرئت خپلې غوښـــتنې او مشورې له مسئولینو سره شریکې کړي.

## د کورنیو چارو سرپرست: موږ د څوکۍ لپاره قرباني نه ده ورکړې



د افغانســتان اســلامي امـــارت د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني روزګان ولایت ته د ســفر پر مهال پـــه دغه ولایت کـــې یوې غونـــډې تـــه د خبرو پر مهال ویلي، چې د اسلامي امارت مجاهدینو په تېرو شلو کلونو کې د موقف لپاره قرباني نـــه ده ورکړې؛ بلکې دغه سربښندنې یې د اسلامي نظام د ټینګېدو او د الله ج د قانون د پلي کولو لپاره ورکړې دي.نوموړي د افغـــان ولس خدمت د اســـلامي امارت اساسي مســـوولیت او دنده بللې او د دغه مسولیت په ښه ترسره کولو یې ټینـــګار کړی دی.د کورنیو چارو وزارت سرپرست ۵مخ

## دیدار ۲۷۰۰ گردشگر خارجی در سال ۱۴۰۱ از افغانستان




رییـــس عمومـــی شـــرکت دولتی افغان‌تور می‌گوید، در سال ۱۴۰۱ خورشـــیدی حدود ۲ هزار و ۷۰۰ گردش‌گر خارجی برای ســـیاحت به افغانســـتان آمدنـــد و از مناطق تاریخی کشـــور دیـــدار کرده‌اند. مولـــوی محمـــد نبی بهـــا، رییس عمومی شـــرکت دولتـــی افغان‌تور در مصاحبه با تلویزیون ملی گفته است که در سال ۱۴۰۱ خورشیدی حـــدود ۲ هـــزار و ۷۰۰ گردش‌گر خارجی برای سیاحت به افغانستان آمدند و از مناطق تاریخی کشـــور دیدار کرده‌اند.او علاوه کرده است که در یکســـال گذشـــته از طریق صنعت گردش‌گـــری، ۶۷ میلیون افغانـــی عوایـــد جمع‌آوری شـــده است. رییس عمومی شرکت دولتی افغان‌تور، افزوده که ما زمینه خوب را برای ســـیاحت تمام گردش‌گران داخلی و خارجـــی فراهم کرده ایم که در چهار دهه گذشـــته بی سابقه بوده است.در همین حال ملا خیر اللـــه خیرخواه سرپرســـت وزارت اطلاعـــات و فرهنگ نیـــز دو روز پیش در سفر خود به ولایت پروان گفته بود که در صنعت ص۵

## حیدر: مدافع وکیلانو او خلکو ته به زیاتې آسانتیاوې برابرې کړو

عدلیې وزارت، پرون د دفاع وکالت جواز د څه د پاســـه ۷۰۰ متقاضیانو په ګډون، د دفـــاع وکالت د ورودي آزموینـــې دویمه دوره ترســـره کړه.د باختـــر آژانس د خبر لـــه مخې؛ په همدې مناسبت جوړه شوې غونډې ته د عدلیې وزارت مســـلکي معین شـــیخ‌الحدیث مولوي عبدالکریم حیدر وویل: «له هغې ورځې چې د مدافعو وکیلانو ټولنه ریاست او د دغه وزارت مربوط شوی دی؛ موږ هڅه کړې چې په ټولو ۵مخ

## کار سرک اتصالی بادام باغ - باغ بالا آغاز شد



شـــاروالی کابل، کارساخت سرک جدید اتصالی میان بادام باغ تا باغ بالا را در شـــهر کابـــل آغاز کرد.به گزارش آژانس باختر؛ این سرک به درازای ۹۰۰ متـــر و پهنای ۲۰ متر به شکل پخته و اساسی ساخته می شود.درقدم نخست مطابق دیزاین طراحی شـــده کار بالای ســـاخت دیوارهای استنادی به امتداد سرک، بستر سازی و کار ساخت آبروهای آن آغاز مـــی شـــود. همچنان کار پاکســـازی و برداشتن موانع و خانه هـــای باقیماندهٔ تحت اســـتملاک مسیر این سرک نیز به پیش میرود. در مسیر سرک یادشده‘ ۹۰ ملکیت و خانه تحت استملاک وجود دارد که مطابق قانون به مالکان آن بدیل پرداخت می شود.این ص۵

## پوهنتونونو کې ۸۵۰ نوي استادان په دندو ګومارل شوي

د لوړو زده کړو وزارت چارواکو ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام کې وویـــل چې د تېر یوه کال په موده کې ۸۵۰ نوي اســـتادان په پوهنتونونو کې په دندو ګومارل شـــوي، چې ډېر یې د اسلامي ثقافت مضمون د تدریس په موخه جذب شوي دي. د دغـــه وزارت چاراواکـــو وویـــل، هڅه کوي، چې په لنډ وخت کې علمي ارتیاوې پوره او افغانستان په علمي ډګر کې



په خپلو پښو ودرېږي. دوی دغه راز وویل، چې وویل۵مخ


نقش تبلیغات رسانه یی در مدیریت بحران ص۲

افغانستان کې د امریکا د ماتې نښې نښانې کومې دي؟ ۳مخ

افغانستان کې د کورنیو تولیداتو او صنایعو ۱۰ نندارتونونه پرانیستل شوي ٤ مخ


## کندز کې ۲۹ حقوقي او جزايي شکایتونو ته رسېدنه شوې

د کنـــدز د امـــر بالمعـــروف، نهي عن‌المنکـــر او شـــکایتونو د اورېدو ریاســـت چاراواکي وایي، چې په تېر یـــوه کال کې دغه ریاســـت ته ۱۳۱ بېلابېل حقوقي او جزایي شـــکایتونه رســـېدلي دي، چې لـــه ډلې یې ۲۹ شکایتونو ته رسېدنه شوې او د پاتې نورو ارزونه یـــې دوام لري.د کندز د امر بالمعروف، نهـــي عن‌المنکر او شـــکایتونو د اورېـــدو رییس مولوي نجیب الله غفوري باختر اژانس سره د خبرو پر مهال ۵مخ

## آغاز دوباره فعالیت سازمان بین المللی مهاجرت در قندهار

ســـازمان بین المللـــی مهاجرت با بازگشایی دفتر خود در ساحه سپین بولدک قندهار‘ فعالیت خود در این ولایت را از سر گرفت. دفتـــر مطبوعاتـــی وزارت امـــور مهاجریـــن و عـــودت کننـــدگان با نشـــر این خبر گفته است: به اساس گـــزارش ریاســـت امورمهاجرین ولایت قندهار فعالیت دفتر سازمان بیـــن المللـــی مهاجرت درســـپین بولـــدک دوباره آغاز شـــد.این نهاد دو ماه قبل فعالیت خود در ســـپین بولدک را متوقف کـــرده بود و پس از نشست ها میان مسئولان وزارت امور مهاجرین وسازمان بین المللی مهاجـــرت‘ این نهاد دفتـــر خود را در ســـپین بولدک که یک نقطه مهم سرحدی بوده و شاهد ۵مخ

## سرمقاله

### آزادی ارزشی که به جان باید خرید

آزادگی برتر از آزادی ونوعی رهایی انســـان ازقید وبندهای ذلت آور ونیز به معنای رهایی عقل وجان آدمی اززندان نفس وشهوت وگام برداشتن دروادی عشـــق وحیرت است ،زیرا آفرینش انسان برپایه آزادی جان گرفته و براساس استقلال درامورحیات واختیار درانتخاب اســـت، روی این اساس احدی حق ندارد، کسی را به بردگی وبندگی خود در آورد و او را برای خواســـته های خود به اسارت بگیرد ،سلب آزادی واستقلال واختیار از هرانسانی، گناه کبیره و بزرگ است.

اســـلام عزیز درباره آزادی وآزادگی به عنوان ارزش اعتراف کرده ،امـــا ارزش منحصر به فرد ونـــه آزادی با تعبیر ها وتفســـیرهای ساختگی، بل آزادی به معنای واقعی.

ازاینرو ازحوادث زمان به ویژه حادثات ســـال بیست پسین چنان اســـتنباط گردید که برخی از انســـان های جاطلـــب ونااگاه به خاطررسیدن به دنیا یا حفظ دارایی وتامین تمنیات و خواسته ها، یا چند روز زنده ماندن و... به هرگونه حقارت واسارت تن دادند ،اما انســـان های آزاده ومعتقد به خداوند (ج) گاهی با ایثار جان هم بهای آزادگی رامـــی پردازند وتن به ذلت نمی دهند که نمونه هم آنرا درتاریخ کشـــور عزیزما افغانستان بسیار داریم که این روز در محافل سیاسی وگرامیداشت از ۲۸ اسد روز آزادی واستقلال ازآنان به افتخار یاد آوری می نماییم وکارنامه های آنان را سرمشق راه خود قرار می دهیم.

بنابرین چه زیبا اســـت که با پشـــت کردن به زرق و برق چند روز دنیا ، هم آزادی وآزادگی خودرا حفظ کنیم وهم استقلال ص۵

## بغلان کې د ځینو دولتي ادارو چارې ارزول کېږي



د پلټنې عالـــي اداري پلاوي د مالي او اداري چـــارو د ارزونې په موخه بغلان ته د خپل ســـفر په ترځ کې د دغه ولایت له والي ســـره ګډه غونډه ترســـره کړه او ټینګار وشو چې دغه اداره به پـــه پوره بې پلـــوۍ د چارو ارزونه کوي.د بغـــلان د والي ویاند ملا علـــم مجیـــدي د باختر آژانس سیمه ییزخبریال ته وویل، چې د دې سفر اصلي موخه۵مخ


## سفارت افغانستان در تهران؛ متعهد به ارائه خدمات بهتر به مهاجرین افغان است

مولـــوی فضـــل محمـــد حقانـــی، سرپرست ســـفارت امارت اسلامی افغانســـتان در تهران‘ متعهـــد به ارائه خدمات بهتر بـــرای مهاجرین افغان در ایـــران شـــد.دفتر مطبوعاتی این سفارت، در خبرنامه‌ی نوشته است: مولوی فضل محمد حقانی، با سید رســـول موســـوی، مدیر کل آسیای غربی وزارت امور خارجه جمهوری اسلامی ایران دیدار کرده است.گفته شـــده اســـت که طی این دیدار روی مســـایل مختلف از جمله مشکلات مهم مهاجران افغانســـتان در کشور میزبان و برنامه‌های سفارت افغانستان در تهران برای عرضه خدمات بهتر، گفتگو شده است.گفتنی است ۵مخ

## ننګرهار کې د همېشه بهار راډیو تلویزیون بېرته خپروني پیل کړې

په ننګرهار کې د اســـلامي امارت د اطلاعاتـــو او فرهنګ ریاســـت چاراواکو ویلي چې د همېشه بهار راډیو تلوېزیـــون ځنډولو خپرونو ته یـــې د بیا پیل اجازه ورکړې ده.د اســـلامي امارت یـــوه مطبوعاتي مقـــام مولوي صدیق الله قریشـــي بدلـــون ویلـــي، چې یاده رســـنۍ یې څه مـــوده مخکې د نشـــراتي ســـرغړونو له امله تړلـــې وه.هغه نـــه دي ویلي، چې دغې رســـنۍ څـــه ډول ســـرغړونه کـــړې وه.له دغې رســـنۍ ســـره په یوه دفتر کې د دوو نـــورو راډیوګانو خپرونې هم ځنډول شوې وې، چې د نشراتو د بیا پیل اجازه ورکړل شوې وه.

## جمعاوری مواد خوراکی و بهداشتی بی کیفیت از شرق شهر کابل



هیئت کنتـــرول شـــاروالی کابل، مقـــداری زیادی مـــواد خوراکی و بهداشـــتی تاریخ و گذشـــته و بی کیفیت را از ســـاحات شرق کابل جمع‌آوری کردند.به گزارش آژانس باختر؛ این موارد شامل مکرونی، شیر، قیماق، ترشی، کنسرو لوبیا‘ نخود، چپس، چاکلیت ص۵

# نقش تبلیغات رسانه یی در مدیریت بحران

ترتیب کننده : پوهنیار عبدالطیف (مومند)

مقدمه: عصرامروز را عصر سلطه و امپراطوری ارتباطات می نامند بی گمنان در مورد همه مسایل جهان بزرگترین رسالت اطلاع رسانی بر دوش رسانه های جمعی است امروزه رسانه ها با گسترش ودرنور دیدن مرزهای جغرافیایی،فرهنگی وسیاسی هویت انسان معاصر را نیزتحت تاثیر قرار داده اند به طوری که می توان هویت انسان مدرن را هویت رسانه ای شده نام گذاشت .افزایش نقش وسایل نوین ارتباط جمعی در بخش های مختلف زندگی بشری سبب شده است تا از آنها در تحولات گوناگون استفاده شود ونقش رسانه ها در اگاهی هموارسازی وگسترش بحرانها برجسته گردد به بیان دیگر رسانه ها همان گونه که در تضعیف پایه های امنیتی و حتا اخلاقی موثراند می توانند در ایجاد و تحکیم آن نیز سهم بسزایی داشته باشند.رسانه ها می توانند به دور کردن احساس نا امنی،بی اعتمادی ونا امیدی فضای ذهنی افراد در جامعه به گونه ای عمل کنند که ضمن انعکاس واقعیت ها از بزرگنمایی ها وکاستی ها خودداری کرده وبه جای بحران نمایی وبحران افزایی به بحران زدایی مهار کنترول وکاهش خسارت بحران سهم مهمی داشته باشد چراکه ثبات وامنیت ملی وتحکیم ان تابع مستقیمی از رویکرد افکار عمومی ورضایت ونارضایتی مردم و واکنش آنها در مواقع بحرانی می باشد. از این منظررسانه ها در حفظ وتحکیم وفاق ملی بالابردن توان انتخاب جامعه،افزایش مشارکت،رقابت وپویایی شهروندان وارتقای سطح دانش در بر قراری وحدت ویا تمایز یکپارچگی مدد رسانند تا وفاق ملی ودر نهایت امنیت ملی پایدار بماند.

**اصل موضوع:** نقش تبلیغات رسانه یی در مدیریت بحران

الف): مفاهیم تبلیغات: مفهوم تبلیغات ازریشه لاتین propaganeگرفته شده واز نظر لغوی به معنای پخش کردن، منتشرساختن وچیزی را شناساندن است تبلیغات از ابتدای خلقت وجود داشته است حک اولین تصاویر ونقوش انسان های نخستین بر روی دیوار های غارها ،سخنرانی ها ترانه ها،سنگ نبشته ها،همه یک حرکت تبلیغی بوده است وتبلیغات در همه زمینه های مختلف از ساختن یک سوزن تا رفتن به کره ماه وجود دارد انگیزه های مادی، معنوی،روانی وبرتری جویی وجود دارد. در این میان توسعه تکنولوژی وترقی روز افزون صنعت وفراگیری وسایل ارتباط جمعی است که جهان معاصر را در چنبره تبلیغات اسیر کرده است .در عصر ارتباطات یا عصراطلاعات خبر گزاری های غول اسای جهانی با مدرن ترین ابزارها وتکتیک ها در اختیار تبلیغات قرار دارند در روند انتشار اطلاعات وبرقراری ارتباطات جمعی تدابیر تبلیغی است که دنیا را تحت تاثیر خود قرار داده است انقلابات مشهور جهان نیز با تبلیغات به ثمر رسیده است در انقلاب ۱۷۸۹فرانسه سخنرانی های مهیج ناطقین ورزیده موجب ارتقاءسطح آگاهی های مردم گشت در تمام جنگهای تاریخی تبلیغات نقش عمده ای را ایفا کرده است.

درجنگها وشورش های منطقه ای اخیر نقش تبلیغات یک طرفه اشنای اذهان عموم می باشد. تبلیغات با وجود متضاد خود هم می سازد وهم می سوزاند وروزگار بدون




تبلیغات نمی گذرد تبلیغات سوای تبلیغات که بر پایه دروغ ونیرنگ باشد وبطور مکرر پخش می شوند بر روان مردم فشار زیادی وارد می کنند که باورهای آنها به مسخره گرفته شده وبه آنها توهین می شود واین زمانی است که تبلیغات یک طرفه باشد وامکان پاسخ به آن نباشد. جنبه اطلاع رسانی عوارض سوئی نیز دارد که مهم ترین آن فشار روانی است امروزه تبلیغات به لحاظ سازوکار اجتماعی،فرهنگی و اقتصادی آن در جامعه یکی ازموضوع های مهم وقابل توجه واثر گذار به شمار می آید اهمیت موضوع تبلیغ در حوزه های مختلف به حدی است که یکی از بخش های مهم مدیریت بحران است که با تبلیغات درست و به هنگام می توان از بسیاری از بحرانها جلوگیری کرد.

**ب): عملیات روحی و روانی رسانه ها:** جنگ اطلاعات جزء لاینفک از جنگ نرم است و به واقع جوهره آن را تشکیل می دهد . جنگ اطلاعات در قالب هایی از جمله(ایجاد اختلال در رد و بدلهای الکترو مقناطیسی و معلومات ها .....) در جنگ الکترونیک(جنگ ماهواره ای ودزدی معلومات ها .....) در جاسوسی وهم چنین در قالب (طراحی و هدایت افکار مرومان و نیرو ها و غیره.........) با عنوان پرو پا گاند و تبلیغات می تواند خود را به عرصه ظهور رساند. در جنگ ها وبه خصوص جنگهای جدید و به ویژه جنگ نامتقارن و نا همگون افکار عمومی نقش بسیار مهم و غیر قابل انکاری را بر عهده دارند. استفاده از رسانه ها برای تضعیف گروه و مجموعه هدف با بهره گیری از توان وظرفیت رسانه ها (اعم از مطبوعات، خبرگزاریها،رادیو،تلویزیون،اینترنت و اصول تبلیغات)بکار گرفته می شود .جنگ رسانه ای یکی از برجسته ترین جنبه های جنگ نرم و جنگ های جدید بین المللی است جنگ روانی به عنوان یک مولفه اصلی جنگ نرم از طریق رسانه به عنوان تاثیر گذارترین عامل بر روند تفکر جامعه اعمال می شود وارتباط مستقیم با موضوع افکار عمومی دارد.از جنگ دوم جهانی به بعد این جنگ رسانه یی به یک رشته علمی و استراتیژیک تبدیل شد که مولفه اصلی قدرت نظامی، اقتصادی، فرهنگی وسیاسی کشور هایی مثل امریکا و........ را تشکیل می دهد دقیقآ به همین دلیل است که مارشال مک لوهان می گوید جنگ هایی که در آینده رخ خواهند داد به وسیله تسلیحات جنگی ودر میدان های نبرد نخواهند بود بلکه این جنگ ها به دلیل تصوراتی رخ خواهد داد که رسانه های جمعی به مردم القاء می کنند رسانه ها در شکل دادن به تصورات مردم وهدایت افکار عمومی نقش تعیین کننده ای دارند از این رو قدرتهای سلطه جو برای تحقق اهداف خود به کار کرد موثر رسانه ها درجنگ وطرح ریزی جنگ رسانه یی یا جنگ روانی رسانه ای توجهی جدی دارند. رسانه ها همان طور که اشاره شد می توانند حقایق را وارونه نمایش دهند کتمان کنند تحریف یا سانسور نمایند ویا با انعکاس برخی اخبار واقعی وغیر واقعی به تهییج و تحریک و یا آرامش افکار عمومی بپردازند.از اهداف چنین برنامه هایی می توان به: تغییر وآلوده گی محیط به نفع مهاجم. نفوذ در افکار عمومی وگمراه کردن آن. بسیج فکری مردم. شخصیت کشی وشخصیت سازی. کوشش در شکست اراده مقاومت. نفاق وتفرقه انگیزی میان نخبگان وجناح های مختلف. مشغول کردن دولتمردان و سرمایه داران و روزنامه نگاران به مسایل جزئی ومنحرف کردن آنان از مسایل اساسی. فراهم کردن محیط برای منازعات داخلی وخارجی. را نام برد که نتیجه این جنگ هم ابعاد خارجی و هم ابعاد داخلی دارد.

**ج): صلابت وقدرت رسانه ها:** اطلاعات مناسب نه تنها به مسایل واقعی مثلاً آنچه اتفاق افتاده به تعریف ارتباطات برای همه رفتار های سیاسی و اجتماعی مهم است بدون ارتباطات نه سیاست ونه جامعه نمی تواند وجود داشته باشد جدی نه گرفتن افکار عمومی پشبرد بسیاری از اهداف ملی وبین المللی را دچار ضعف ونقصان می کند کشوری که در چالش های بزرگ جهانی واره شود اما نتواند صدای خود را به گوش جهانیان رسانده و در شکل دهی به افکارعمومی جهانیان نقش جدی ایفا کند قطعآ به شدت آسیب پذیر خواهد بود.از آنجا که علم و دانش مهم ترین ابزار برتری جوامع بر یکدیگر است بدیهی است کشورهای استعمار گر سابق وتوسعه یافته امروز به منطور حفظ منافع خود در دیگر کشورها از علم وتکنولوژی به عنوان بهترین وسیله استفاده می کنند و امپریالیسم خبری،رسانه ها، کتب و مجلات را به عنوان ابزاری به انحصار خود در آورده اند که صدها دانشمند طراز اول آمریکایی و اروپایی وگاه جهان سوم وسایر نخبگان و اندیشمندان به سازمان یافته ای مجهز به آخرین اطلاعات و امار در باره اغلب کشورها الویتهای استرانژیک آنها هستند و تقریبا در بیشتر حوزه ها ومسایل آنها از جنبه های سیاسی اجتماعی،فرهنگی، اقتصادی ونظامی مشغول تفکر ومطالعه وارایه راه و روشهای متعدد می باشند وبدین طریق خط مشی شبکه های بزرگ خبری واطلاع رسانی جهانی را تعیین وترسیم می نمایند.نتیجه گیری: از مباحثات فوق چنین نتیجه میگیریم که عصرامروز را عصر سلط و امپراطوری ارتباطات می نامند بی گمنان در مورد همه مسایل جهان بزرگترین رسالت اطلاع رسانی بر دوش رسانه های جمعی است امروزه رسانه ها با گسترش ودرنور دیدن مرزهای جغرافیایی،فرهنگی وسیاسی هویت انسان معاصر را نیزتحت تاثیر قرار داده اند به طوری که می توان هویت انسان مدرن را هویت رسانه ای شده نام گذاشت، در این میان توسعه تکنولوژی وترقی روز افزون صنعت وفراگیری وسایل ارتباط جمعی است که جهان معاصر را در چنبره تبلیغات را نیز اسیر کرده است .و جنگ اطلاعات جزء لاینفک از جنگ نرم است و به واقع جوهره آن را تشکیل می دهد . جنگ اطلاعات در قالب هایی از جمله(ایجاد اختلال در رد و بدلهای الکترو مقناطیسی و معلومات ها .....) در جنگ الکترونیک(جنگ ماهواره ای ودزدی معلومات ها .....) در جاسوسی وهم چنین در قالب (طراحی و هدایت افکار مرومان و نیرو ها و غیره.........) با عنوان پرو پا گاند و تبلیغات می تواند خود را به عرصه ظهور رساند.

منابع ماخذ:
کتابها:
شیرمحمد «ناصریان» جنگ روانی ونقش رسانه ها
مصطفی « آخوندی» جنگ نرم در قران وسنت
حمیدالله « عارفی» جرایم سازمان یافته
سایت انترنیتی http ensani.ir

# د ربښتيني خپلواکۍ په ارمان؛ له چارواکو سره څو خبرې

عمر عماد

آيا کله مو دا فکر کړی چې د قرآن مجيد دغه امر هم فرضيت افاده کوي( وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) او نه پر ځای کول يې ګناه ده؟

که وايئ چې : هو ، نو په دې لاره کې مو څه کړي، او يا د څه کولو نيت لرئ؟

آيا کله مو د رسول الله (ص) په دې وينا کې فکر کړی چې فرمايي: ( المومن القوی خير واحب الی الله من المومن الضعيف)؟

که وايئ چې : هو ، نو په دې لاره کې مو څه کړي، او يا د څه کولو نيت لرئ؟

آيا کله مو دا فکر کړی چې موږ څرنګه د دغې آيت شريف مصداق ګرځېدلای شو( وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا)، او که نه، نو د ايمان په دعوی کې صادق نه يو ؟

که وايئ چې : هو ، نو په دې لاره کې مو څه کړي، او يا د څه کولو نيت لرئ؟

آيا کله مو د رسول الله (ص) په دې وينا کې فکر کړی چې فرمايي: ( الاسلام يَعلو ولا يُعْلَى عليه)؟

که وايئ چې : هو ، نو په دې لاره کې مو څه کړي او يا د څه کولو نيت لرئ؟

يا په بل عبارت:

آيا په دې عصر کې د دغې نصوصو تطبيق بې له عصري علومو ممکن دی؟

حتماً به وايئ چې نه .

چې داسې وي، نو آيا د دې معنی دا نه شوه چې د عصري علومو تحصيل هم د همدې نصوصو حکم اخلي، ځکه چې فقهي اصولي متفق عليها قاعده وايي چې ( ما لا يتم الواجب الا به فهو واجب) او له دې نه پراخه هغه بله قاعده چې وايي: ( للوسائل احکام المقاصد)؟

که وايئ چې هو:

نو اوس په پوره صداقت ووايئ چې:

تاسو په دې لاره کې څه کړي او د څه کولو نيت لرئ، تر څو د دې نصوصو له مسئوليته خلاص شئ؟؟؟!!!

# آيا تعدد احزاب ضرورت است؟

شيخ محمدادريس هدفيار

والتکن منکم امۀ يدعون الی الخير ويأمرون بالمعروف و ينهون عن المنکر واولئک هم المفلحون.

ترجمه: آيا می باشد ازشما گروهی که دعوت کند مردم را بسوی خير و امرکند به معروف ونهی کند ازمنکر و اين گروه رستگاران اند.

درصورتيکه يک جامعه يا يک کشور به مسير نامعلوم ويا مطلقاَ به مسير که آينده آن به بحران و خطر بزرگ مواجه باشد در حرکت باشد و يا اينکه نظام همان جامعه زير نظر استعمار به وجود آمده باشد لازم است تا از ميان مردم گروهی شکل گيرد و برمبنای هدف واحد که همانانجات جامعه از هلاکت می باشد مصداق آيه فوق قابل تصديق وتائيد است وبرعکس اگرچنين خطرات متوجه جامعه نباشد ، نظام اسلامی موجود باشد قانون شريعت نافذ باشد ، عدالت تامين باشد و امنيت سرتاسری موجود باشد درينصورت به هيچ وجه ضرورت به ايجاد احزاب و تعدد احزاب نمی باشد که اين خود اتحاد و همبستگی يک ملت را برهم زده ، بی باوری ها را بار آورده ، بجای رضايت الله به رضايت مردم توجه ميگردد ، صداقت و عدالت از بين ميرود چنانچه در گذشته ها بعد از اينکه روسها شکست خورد عملاَ مشاهده کرديم که در طول ۴۳ سال احزاب هيچکدام به کدام نتيجه يی نرسيدند و نه کدام نتايج خوبی را در پی داشت و از اين نقطه ضعف دشمنان دين ووطن بخوبی توانستند استفاده اعظمی نمايند.

بناءَ فرصت بوجود آمده زمينه ساز خوبی است برای ساختن يک کشور باثبات ، دارای نظام اسلامی ، استقلاليت کامل.

برای يک آينده مرفه ، ترقی وتعالی اين کشور هرکس چی به صورت فردی باشد و يا اجتماعی مکلف است تا از هيچگونه سعی و تلاش دريغ ننمايد.

# خلافتی که پسوند اسلامی به آن نمی‌زیبد

**بخش نخست - محمدصادق طارق**

هویداست که کشورهای غیراسلامی تلاش‌های بی‌وقفه خود در تکاپوی مغلوب ساختن ما را تا هنوز ادامه می‌دهند. با استفاده از فعالیت‌های مخربانه و دسیسه‌های مخفیانه موفق شده‌اند دانه‌ی صید ما را در دام پرفریب خیرخواهی و بشر دوستی به نحوی جاگذاری نمایند که نه برخی از ما مسلمانان را توان انصراف باقی باشد و نه آنان را بیم فرار.

من در حیرتم که چگونه می‌توانند بشرکشی را زیر چتر بشردوستی، دشمنی را در پوستین دوستی و جنگ‌های استخباراتی را تحت پسوندهای زیبای اسلامی در کشورهای گوناگون به‌شکلی راه‌اندازی نمایند که بازار آن را با استفاده از جوانان و نوجوانان مسلمان گرم نگهدارند!

خواننده ارجمند! گاهی اوقات انسان از شنیدن واقعیت‌های مخفی انگشت به دندان می‌شود. شما نیز شاید در مورد «خلافتی که پسوند اسلامی برآن نمی‌زیبد» مطالعات و معلومات ضد و نقیض را در بدو ظهور آن داشته‌اید که میزان ارجحیت قبول و عدم قبول را مختل می‌نمود اما چهره واقعی آنان در اواخر طوری رسوا شد که هیچ نقاب دیگر را مجال استفاده نباشد.

در بخش نخست این مقاله می‌خواهم بدانید که چندین سال از معمای تشکیل داعش و جنگ شان در افغانستان و سایر کشورهای اسلامی می‌گذرد اما چرا تا کنون هیچ جنگی را علیه کشورهای کفری سازماندهی نکرده است؟! در حالی‌که بیش از ۶۰ کشور غیر اسلامی به‌شکل مکرّر مقدسات اسلامی از قبیل قرآن، پیامبر، اسلام و مسلمانان را هتک حرمت کرده‌اند، نه از سوی داعش تهدید شده‌اند و نه احساس خطر دارند.

بر بنیاد باور تمام نویسندگان و محلّلین موضوعات اسلامی، داعش محصول ایدئولوژی خوارج است که غیر از خود تمام مسلمانان را مرتد می‌دانند و علیه شان اعلان جهاد و مبارزه می‌کنند. هیچکس نمی‌تواند ثابت کند که خوارج علیه انگلیس، فرانسه و یا سایر کفار جهان رزمیده باشند بلکه توجه بیشتر شان بر مبارزه علیه مسلمانان عثمانی، عراقی و حجازی متمرکز بوده است.

داعش امروزی نیز تمام انرژی و قوت خود را در افغانستان، سوریه، عراق، نیجیریا و سایر کشورهای اسلامی علیه مسلمانان و نهضت‌های گوناگون جهادی به کار می‌برد که موجب تفکر عمیق برای همه‌ی مسلمانان است.

در پایان بخش نخست مقاله خود فقط به عنوان تنبیه می‌خواهم از همخواهان فکری و عقیدوی داعش بپرسم که چرا داعش در کشورهای کفری نمی‌جنگد؟ پرسشی که اگر در مورد پاسخ آن تحقیق منصفانه صورت گیرد حقیقت خلافت مصنوعی را روشن می‌نماید.

# د بېوزلو ناروغانو درملنه او لاسنیوی غوره کاردی

**شاه محمود درویش**

په دې وروستیو کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې، د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو یوه بله ډله هم په پلازمېنه کابل کې یوه داخلي روغتون ته د درملنې په موخه ور پېژندلې ده. دغه ۸ ماشومان، چې اوسمهال د سوري زړه له ناروغۍ کړېږي، په دغه روغتون کې به تر درملنې لاندې ونیول شي. د یادونې وړ ده، چې په تېروشاوخوا ۱۲ میاشتو کې د افغاني سرې میاشتې له لوري پلازمېنه کابل کې بېلابېلو روغتونونو ته ۱۵۶۰ ماشومان د درملنې په موخه ورپېژندل شوي، چې د درملنې ټول لګښت یې د افغاني سرې میاشتې له لوري ورکول کېږي.

البته په ټوله کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې، د انسان پالنې او خواخوږۍ د مفکورې په لرلو تل د غریبو او بې چاره ناروغانو خدمت ته وردانګلې او په زیاترو اړمنو او بېوزلو کورنیو یې هم د امکان تر بریده خپلې بشرپاله مرستې وېشلې، چې واقعاً غوره اقدام دی. همداشان دغه خیره ټولنې د هېواد بېوزلو او اړمنو هېوادوالو سره د مرستې ترڅنګ په دې هم توانیدلې، هغه شمېر ماشومان چې د زړه سوري په ناروغۍ اخته دي په هیواد کې د ننه د خصوصي روغتونونو په همکارۍ د درملنې ترڅنګ، د همدغې ټولنې د هلو ځلو له امله دیو منظم مهال وېش پراساس په ګروپي ډول د بیوزلو کورنیو ماشومان د درملنې په موخه جرمني او ځینو نورو هېوادونو ته لېږلې دي. نو لازمه ده چې د هېواد ملي پانګه وال او ملي سوداګر هڅه وکړي چې د خواخوږۍ او بشرپالنې د نیک احساس او انسان پالنې د غوره مفکورې له مخې له سرې میاشتې ټولنې سره بسپنه او لازمه مرسته وکړي ترڅو دغه ټولنه لاهم په خپلو پښو ودرېږي، مالي بنسټ یې پیاوړی او یوه اندازه امکانات دوئ ته په لاس ورشي، چې د کال په مختلفو موسمونو کې چې زموږ کوم شمېر هیوادوال له ډول ډول مصیبتونو او ستونزو سره مخامخ کېږي او بیړنیو مرستو ته اړتیا پیداکوي، په مناسبو وختونو کې له دوی سره لازمې مرستې وکړي او له شته ستونزو مو هېوادوال وژغورل شي.

# افغانستان کې د امریکا د ماتې نښې نښانې کومې دي؟

**تبصره**



ځینې غولېدلي افغانان چې په تېرو شلو کلونو کې د لوېدیځ په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو تر سخت ژور فکري اغېز لاندې راغلي اوس مهال هم تر ډېره په بهرنیو هېوادونو کې مېشت دي، ادعا کوي چې ګواکې امریکا او ملګرو یې په افغانستان کې ماتې نه ده خوړلې، بلکې دغه ماتې افغانستان خوړلې او د دوی دلیل دا دی، چې ګواکې د بهرنیو ځواکونو او د هغوی د داخلي ملګرو له وتلو وروسته افغانستان له لوږې او رنګا رنګ نورو ستونزو سره مخ شوی او امریکا او ملګري هېوادونه یې برعکس لا پر مخ ځي او ځینې خو ان ډېر کمزوری نظر دا وړاندې کوي، چې که امریکا په افغانستان کې ریښتیا ماتې خوړلې وي، نو بیا ولې د نیویارک او واشنګټن ښارونه لوړې لوړې نه دي.

اوس مهمه دا نده، چې د امریکا نیویارک، واشنګټن او نور ښارونه لوړې لوړې دي او که نه، خو هغه اهداف یې چې په افغانستان کې درلودل، په ریښتیا هم لوړې لوړې دي او په تېرو شلو کلونو کې امریکا او ملګري یې د زرګونو سرتېرو په له لاسه ورکولو او میلیاردونو ډالرو په لګولو بیا هم وه نه توانېدل چې خپل اهداف ترلاسه کړي.

دغه راز امریکایان هم په افغانستان کې په خپلې ماتې اقرار کوي او له دې سترګې نه پټوي چې دوی په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان د مجاهد ولس پر وړاندې پاتې راغلي.

افغانستان کې د امریکا او ملګرو هېوادونو ماتې ته په اشارې د افغانستان د بیا رغونې په برخه کې د امریکا د پلټونکې ادارې (سیګار) مشرجان سپکو له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي، چې واشنګټن او د ناټو سازمان نورو غړو هېوادونو په افغانستان کې خپل زرګونه سرتېري له لاسه ورکړل او میلیاردونه ډالر روپۍ یې مصرف کړې خو تر شلو کلونو ناکام ماموریت وروسته یې افغانستان پرېښود.

اوس راځو دې ته چې امریکا په ریښتیا هم په کومو برخو کې ماتې منلې ده.

هو! امریکا چې له مذهبي اړخه هېڅکله د افغانستان دوست او ملګری نه شي کېدای، غوښتل یې دلته ښځو ته د امریکا له قانون سره سمه ازادي ورکړي، چې په دغې برخه کې د پام وړ هڅې هم وکړې خو د افغانستان ملالو یې دغه ارمان له خاورو سره خاورې کړ او شل کاله وروسته یو ځل بیا لیدل کېږي، چې افغانۍ مېرمنې او نجونې په ویاړ سره حجاب مراعتوي هغه څه چې لوېدیځوال یې نه غواړي او دا په افغانستان کې د امریکا له ښکاره ماتو څخه بلل کېږي.

د دې ترڅنګ امریکا او ملګرو یې غوښتل دلته تلپاتې پوځي اډې ولري او له دې ځایه سیمه او نړۍ کې خپل سیالان وڅاري خو دغه ارزو او ارمان یې هم دې د افغانستان اسلامي امارت د مجاهدینو له لوري له خاورو سره خاورې شو او په تېټ سره له افغانستان څخه ووتل.

هو! داسې نور ډېر دلایل او ثبوتونه هم شته، چې په زغرده ښکاره کوي، امریکا په افغانستان کې ماتې خوړلې ده.

# د آزادۍ او غلامۍ کیسه!

**حامد افغان**

د لوی هند د اشغال پر مهال د پرنګیانو له اصولو سره سم به چې کوم انګرېز هند کې ماموریت تر سره کړی و هغه ته به په برتانیه کې ملکي وظیفه نه ورکول کېده! دلیل یې دا و چې دې مامور په هند کې پر غلام قوم حکومت کړی او خپل وطن ته راغلی دی! چې په هغه سره د ده په رویه او حالت کې بدلون راغلی، نو برتانیه کې که هغه ته کومه دنده ورکړل شي ؛ نو هغه به د انګرېز قوم له ازادو وګړو سره هم ورته چلند کوي.

د انګرېزانو د دې اصل په رڼا کې دا لاندې کیسه ولولئ، په هند او پاکستان کې د یوه پرنګي افسر مېرمنې د خپلو یادښتونو په اړه یو په زړه پورې کتاب لیکلی دی، دا یې هند کې د خپل مېړه د افسرۍ د مهال یادښتونو دي، چې د هند په مختلفو سیمو کې یې دندې ترسره کړې دي.

دا انګرېزه مېرمن لیکي: یو وخت چې زما مېړه یوه ولسوالۍ کې مرستیال ولسوال و، هغه مهال زما زوی څلور کلن او لور مې یوه کلنه وه، هلته موږ په ځو جریبه ښایسته او پراخ کور کې اوسېدو، هلته زموږ د ساتنې او خدمت لپاره څو سوه کسان په کار بوخت وو، هره وخت به مېلمستیاوې وې، د ښکار پروګرامونه به وو، د هغه ځای سترو پانګه والو او ځمکه والو موږ ته مېلمستیا د ځان لپاره فخر او ویاړ باله او هر چا ته به چې موږ ورغلو دا به هغوی د ځان لپاره عزت باله، لنډه دا چې زموږ دومره عزت او درنښت کېده چې برتانیه کې به د ملکې هم نه کېږي.

کله به مو چې چرته سفر کاوه زموږ لپاره به د رېل ګاډي یوه مکمله او ښایسته ډبه ځانګړې شوې وه، کله به چې موږ رېل کې سپاره شوو، نو سپیني جامې پر تن د رېل ډریور به موږ ته راغی، دوه لاسي سلامي به یې وکړه او د سفر پیلولو اجازه به یې وغوښتله! او موږ به چې اجازه ورکړه رېل ګاډی به یې روان کړ.

یو ځل داسې وشول چې موږ د سفر لپاره په رېل ګاډي کې ناست وو، نو له معمول سره سم د رېل ډریور د اجازې غوښتلو لپاره زموږ ډبې ته راغی، چې ما د اجازت ورکولو ورته ویل؛ زما ماشوم زوی چې په څه شي غوسه شوی و، ورته وویل: اجازت نشته! ډریور خوله جینګه او زیاته یې کړه: کوچنی صاحب چې څه امر کوي هماغسې به کوو.

څه وخت وروسته د رېل ګاډي د تمځای مشر او ټوله عمله راغله، هغوی ټولو زما څلور کلن زوی ته زارۍ پیل کړې، خو زما زوی تیار نه و چې اجازه ورکړي! وروسته ما په ډېر تکلیف او زحمت سره هغه سره د بیسکوټونو او نورې وعدې وکړې او هغه راضي شو او په دې سره مو سفر پیل کړ.

هند کې د پرنګي افسر زیاتوي او مخته لیکي: څو میاشتې وروسته زه د سمندر له لارې د خپلوانو لیدلو لپاره برتانیه ته راغلم، زموږ کور وېلز کې و، چې هلته به موږ په رېل ګاډي کې تلو، لور او زوی مې تمځای کې پر یوه لرګینه چوکۍ کېنول، زه د ټیکټ راخیستلو لپاره په اوږده کتار کې ودرېدلم! چې راغلم د زوی تبیت مې ډېر خراب و،

کله چې رېل ګاډي ته ننوتلو د لویې او ښایسته ځانګړې ډبې پر ځای د لومړۍ درجې چوکیو ته ودرېدلو! په دې سره مې د نازولي زوی شونډې وځړېدلې! او بروس غوندې کېناست! کله چې رېل ګاډي شپېلۍ ووهله او روان شو؛ زوی مې پرینګ په ژړا او ان چیغې یې پیل کړې! او په قهر جنه لهجه یې وویل: دې بدمرغه ډرېور ولې زموږ له اجازې پرته رېل روان کړ، زه به مې پلار ته وایم چې دا ډریور ښه ودبوي!

پرنګۍ مېرمن زیاتوي: زما لپاره سخته وه چې خپل زوی پوه کړم چې دا ستا د پلار مستعمره هېواد نه دی؛ بلکې دا یو ازاد هېواد دی! دلته ستا د پلار په څېر دریمه درجه افسران څه چې ان لومړی وزیر او پاچاه هم عامو خلکو ته په کږه سترګه نه شي کتلای، د دولت په نیشه کې د چا بې عزتي او سپکاوی خو لا غټه خبره ده.

یوه سعودي ځوان زموږ سره کار کاوه، یو مشر پولیس افسر د دکان مخته ودرېد، د دکان بنګالي مزدور ته یې غږ کړ، ویل فلان او فلان سامان راواخله، سعودي ځوان بنګالي ته وویل: مه ورځه! دکان کې د ننه خپل کار کوه، پولیس افسر ته یې وویل: وروره! له موټره راکوز شه، په خپله دکان ته ورشه او د خلکو په رقم سودا درواخله، د بنګالي مزدور دنده دکان کې د ننه ده، نه بهر، پولیس افسر په عادي توګه سودا ور واخیستله او روان شو.

د سعودي ځوان دا خبره لکه د خلافت راشده د پیر د دې جملې (لست بخیرکم/زه ستاسو نه غوره نه یم) تسلسل او لړۍ یې، مسلمان واکمن به تش په خوله ځان د ولس واکمن نه ګڼي ، بلکې عملاً او اخلاقاً به ځان د عامو وګړو په څېر ګڼي او هېڅکله به د سلطې او زور له امله آن د چا سپکاوی هم نه کوي.

ولس او رعایاؤ ته د درنښت او هغوی ته د احترام نبوي لاره زموږ مخکې پرته ده، یوه غزا کې له رسول الله (ص) نه په خطایی کې د غشي په څوکه یو صحابي خوږ شو، نو هغه ته یې ځان وړاندې کړ چې غچ رانه واخله! (ابن هشام، السیرة النبویة ۱/٦٢٦).

داراز حبیب بن صهبان وایي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه مې واورېدل چې ویل یې: د مسلمانانو ملاوې د الله ممنوعه ځایونه دي ، له حد پرته هېڅوک څه ورته ویلی نه شي. (مصنف عبد الرزاق الصنعاني، ٤٦٤/٩). یعنې له شرعي حدودو او سزاګانو پرته کوم مسلمان پر ملا یا بل ځای وهل الله منع کړي.

له دې کیسو او خبرو مې موخه دا ده چې ازادي په معلومو ورځو کې په جشنونو، شعارونو او شعرونو سره نه تعریفېږي، ازادي د هغه ولس نصیب ده چې واکمن یې خپل ولس سره پر نبوي لاره روان یاست او د راشده خلافت چلند ورسره کوي. بناءً په دې کرښو کې پرتو پندونو او عبرتونو ته دې ټول واکمن متوجه وي، چې په دې کې یې لومړۍ د دنیا او بیا د اخرت ګټې او نېکمرغۍ نغښتې دي.

# کومې کړنې اسلام ماتوونکې دي؟!

ساجدالله عظمت

اسلام چې یو اسانه او بشپړ دین دی. په هماغه کچه نازک او نرم هم دی، چې وړه غلطي او بدي په کې انسان ته ستره تامېدلی شي. په دغه مبارک دین کې ځینې داسې شیان هم شته چې مسلمان یې په کولو سره له اسلامه وځي او هغه سببونه دا دي: (له الله تعالی سره شریک نیول، د رسول الله (ص) درواغجن بلل، سحر او جادو کول، د الله جل جلاله دین نه منل، د لمانځه بالکل پرېښودل یا له فرض شویو احکامو انکار کول او په غیر ما انزل الله باندې فیصله کول).

له الله تعالی سره شریک پیدا کول:

د اسلام له ټولو ستر ماتونکی د الله تعالی سره په وینا، عمل او عقیده کې شریک نیول دي، لکه: د غیر الله رابلل، یا له الله جل جلاله نه پرته بل چا ته قرباني کول، یا په غیر الله باندې د توکل پروسه کول، چې هغه ګټه او تاوان، شر او خیر ورسوي؛ همداراز له الله جل جلاله نه پرته بل چا نه د مرستې غوښتنې اوازونه کول، چې ډېر عام شیان په کې شامل دي. لکه زیارتونو کې پر ښخ شویو مړیو غږ کول، چې خیر دې ور ورسوي او یا دې مرسته ورسره وکړي.

هر هغه څه شرک ګڼل کېږي، چې د الله جل جلاله نه بغیر د مخلوق د توان څخه د هغې کول پوره نه وي او ته یې ترې غواړي، که هغه پیغمبر وي او که ولي وي، که پرښته وي او که لمر، سپوږمۍ وي که ستوري، ونه وي که قبر؛ یا نور داسې مخلوقات وي، چې نه فایده رسولی شي او نه ضرر؛ بلکې ژوند او شتون یې د الله جل جلاله په امر او اذن وي.

نو په دې ایمان درلودل چې د الله جل جلاله ترڅنګ یو بل ځواک هم شته چې د ګټې او تاوان وس لري؛ شرک دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دروغجن ګڼل:

د رسول الله صلی الله علیه وسولم دروغجن ګڼل او ورسره کینه کول، یا د هغه له احکامو سره دښمني کول چې د الله جل جلاله له لوري ورته لېږل شوي، یا د سنتو او هغه چا پورې مسخرې کول چې د سنتو پابند وي؛ د اسلام له ماتوونکو جزونو څخه دي.

سحر (جادو) کول:

سحر، کوډې، جادو کول او یا په دې پلیت او ناولي عمل یقین کول، همداراز عقیده ساتل چې ساحران، کوډګران او جادوګران له غیبو او د انسان له خیر او شر نه خبر دي، د اسلام له ماتوونکو څخه دي؛ ځکه پر غیبو یوازې یو ذات پوهېږي او هغه ذات یوازینی الله جل جلاله دی.

د الله جل جلاله دین نه منل:

د الله جل جلاله دین نه منل او یا مخ ور ځنې اړول چې عمل نه پرې کوي. د تل لپاره یې زده کول نه غواړي او نه پرې پوهېږي؛ له اسلام ماتوونکو څخه دي. الله جل جلاله د سورت جن په ۱۷ ایت کې فرمایي: ژباړه: څوک چې مخ واړوي د خپل رب له ذکر (کتاب) څخه دا به الله تعالی سخت عذاب ته داخل کړي.

د لمانځه بالکل پرېښودل او فرضي احکامو انکار کول:

لمونځ چې د اسلام له پنځو بناو څخه دویم رکن دی؛ پرېښودل یې ستره ګناه او د تل لپاره نه کول یې اسلام ماتوونکی دی. له دې سره که له ځینو نورو فرض کړل شویو احکامو او حکمونو انکار کېږي؛ نو دا هم له اسلام سر غړونه او بې دیني ده.

په غیر ما انزل الله باندې فیصله کول:

په اسلام دین منګولې لګول او په کامله توګه د هغې منل، حکمونه عملي کول او فیصلې منل حق دي او له دې ور هاخوا نور څه ګمراهي ده. الله تعالی د سورت انعام په ۱۵۳ ایت کې فرمایلي: ژباړه: دا زما نېغه لاره ده، تاسې یې تابعداري وکړئ او په نورو لارو مه ځئ چې تاسې به جدا او خواره واره کړي؛ د حق له لارې څخه. دا د الله تعالی وصیت دی تاسو ته. د دې لپاره چې تاسې کې تقوا راشي، نو د الله جل جلاله په ثابتو احکاماتو او ستر کتاب (قرانکریم) فیصلې نه کول د اسلام له ماتوونکو څخه دي.

# که په زعفرانو پانګونه وشي!

عابدالله-سمسور


زعفران د نړۍ له ټولو ګران بیه ګل دی، چې د روزلو او ټولولو نړدې ټول کارونه یې په لاس ترسره کېږي. زعفران خپله نورو خوراکي توکو ته خوند او رنګ ورکوي، وازګې له منځه وړي او په وینه کې د کلسترول د زیاتوالي مخه نیسي. ذهني ارامتیار رامنځ ته کوي، اشتها زیاتوي او د پوستکي، سترګو، زړه او سرطاني ناروغیو مخه نیسي، حافظه قوي کوي او د وینې فشار په ټیټولو کې پوره مرسته کوي. که له زعفرانو په خوړو کې ګټه واخیستل شي، هضم اسانه کوي، معده قوي کوي او دردونه یې له منځه وړي.

پر زعفرانو وروستیو څېړنو ښودلې چې زعفران د ستړیا او خپګان د له منځه وړو خاصیت لري، له دې مخکې هم په سنتي طب کې زعفرانو ته خوشالوونکی او د خوښۍ راوړونکي نوم کارول شوی دی. د څېړنو پایلو ښودلې چې په ورځني ډول باید له زعفرانو په خوړو کې ګټه واخیستل شي او یا هم یوه پیاله د زعفرانو چای وڅښل شي؛ ځکه عصاب پیاوړي کوي.زعفران د الزایمر او پارکیسون ناروغیو مخه نیسي او تمرکز قوي کوي، زعفران د عصبي دردونو او بې خوبۍ اصلي درمل دی. کله چې انسان زړېږي او د لید حس یې کمزوری کېږي؛ نو د څېړنو پر بنسټ باید له زعفرانو استفاده وکړي؛ ځکه زعفران کولای شي هغه سلولونه له سره ترمیم او بیا ژوندي کړي چې د لیدو په حس کې مرسته کوي. زعفران سرطاني ضد ځانګړنې لري، همدغه بوټی د تومور او نورو سرطاني ناروغیو ضد ښه درمل دی.

سره له دې چې له زعفرانو په دفترونو، کورونو او هر ځای کې ګټه اخیستل کېږي، په عسکري مورچلو، چونۍ، پوستو او قرارګاو، کې هم ترې استفاده کېږي، د حکومتونو لخوا عسکرو ته په دې خاطر یو ډول ګولۍ ورکول کېږي، چې په خپل ترکیب کې زعفران ولري. د دې ترڅنګ د پوهنتونونو محصلینو ته هم کله کله ورکول کېږي څو خپل درس ووایي او له نورو بېځایه فکرونو څخه خلاص شي.

په افغانستان کې د زعفرانو کرنه:

په افغانستان کې هم زعفران کرل کېږي. دغه بوټی د لومړي ځل لپاره په هرات کې وکرل شو، چې اوس یې ډېر وګړي د کوکنارو او نورو نشه یي توکو د کر او تولید پر ځای زعفران کري او دغه کار دوی ته نړیوال شهرت هم ورکړی دی.په لومړیو کې د افغانستان زعفران یوازې ایران ته صادرېدل او له هغه ځایه به په نړیوال مارکیټونو کې د ایراني شرکتونو په نومونو خرڅېدل، چې د کیفیت او ارزښت جایزې یې هم د ایرانیانو وې؛ خو په وروستیو کې ایټالیا، هسپانیا او هند ته هم ډېر زعفران صادر شول، له دې وروسته د افغانستان زعفرانو په جرمني، سویډن، امریکې، فرانسې او تاجیکستان کې هم بازارونه پیدا کړل او اوس تقریباً په ټوله نړۍ کې د افغانستان زعفران ځانګړی نوم لري؛ ځکه د افغانستان زعفران د ښه کیفیت او شهرت له امله چې لري یې تېر کال د «ذایقې او کیفیت د نړیوال انستیټوټ» له خوا چې مرکز یې په بروکسل کې دی د درېیم ځل لپاره د نړۍ لمړی مقام خپل کړ.د معلوماتو له مخې په ۱۳۹٦ کال په افغانستان کې ۳،۵ ټنه زعفران تولید شوي، د همدغه کال په لومړیو دریو میاشتو کې له افغانستان شاوخوا ۳۵۰ کیلو ګرامه زعفران نورو هیوادونو ته صادر شوي، چې: د ۱۳۹۵ کال په نسبت په ۱۳۹٦ کال کې د زعفرانو صادرات ٦۷ سلنه زیاتوالی ښیي او ارزښت یې هم یو میلیون ډالرو ته رسېږي. اوس په افغانستان او نړیوال بازار کې د یو کیلو تولید شویو زعفرانو بیه د ۱۴۰۰ او ۲۰۰۰ ډالرو ترمنځ ده. که څه هم چې په دې وروستیو کې په پکتیکا، پکتیا، فراه، ننګرهار او یو شمیر نورو ولایتونو کې هم د زعفرانو بوټی ازمویل شوی، چې ښه حاصل یې ورکړی؛ خو که په زعفرانو پانګونه وشي، د زعفرانو کښت به ډېر شي او هغه سیمې چې په کوکنارو لړل شوې، له دغه بد بوټي به خلاص شي، زعفران به په کې وکرل شي،چې د کوکنارو په پرتله ډېر ګران بیه او ښه حاصل ورکوونکي دي. دا چې نشه یي توکو زموږ ډېر ځوانان روږدي کړي؛ نو د زعفرانو له کر سره به دغه بدمرغي هم پای ته ورسېږي. د خلکو په ځانګړي ډول د بې وزلو او غریبو بزګرانو ژوند به ورسره ښه شي او اقتصادي ګراف به یې لوړ شي او له دې سره به مو کورني حاصلات هم لوړ شي.نو که چېرې په لري



پرتو او وروسته پاتې سیمو کې بزګرانو ته د زعفران کرلو زمینه برابره شي، هغوی ته اصلاح شوي تخمونه ورکړل شي، د اوبو رسولو سیستمونه، د اوبو بندونه او په کرنیزو ځمکو کې بزګرو ته د زعفرانو د کښت زمینه برابره شي؛ نو دغه بوټی به نور هم ښه حاصل ورکړي او د خلکو وضعیت به ورسره ښه شي.حکومت، نړیواله ټولنه او مرستندویه موسسې باید د بزګرانو تخنیکي ستونزې ورحل او د هغوی ملاتړ وکړي، دا چې د زعفران بوټی په ډېر وخت کې حاصل ورکوي، باید د کروندګرو د غربت مخه ونیول شي، هغوی ته برابر پورونه ورکړل شي او مرستې ورسره وشي.

# په آذان د مدینې

پیرمحمد کاروان

بختور تر بختورومه څوورځې
کلیوال د پیغمبر ومه څو ورځې
زمازړه یو بې اغزیه سورګلاب ؤ
زه نه زخم نه خنجر ومه څوورځې
له کوثراوله زمزم سره پخلاوم
بس له تندې مرور ومه څو ورځې
په آذان د مدینې مې زړه روښان ؤ
زه له ستورو نه هم بر ومه څو ورځې
د دنیا له پاچاهانوبې پروا وم
یو فقیر او قلندرومه څوورځې
دخپل ژوندپه وچه للمه کې روان وم
په څپووم سمندرومه څوروځې
مادښمن په غشو،نه په ګلاب ویشتو
د خوږې مینې سنګر ومه څوورځې
لـه تیارو نه په کاروان کې وم راوتی
لاروی د ښکلي لمر ومه څو ورځې

# د مظلوم ښېرا

حامد افغان

عبد الله بن عباس رضي الله عنها وایي: کله چې رسول الله ﷺ معاذ یمن ته ولېږه، ورته ویې فرمایل: د مظلوم له ښېرا ځان ساته، ځکه د مظلوم د ښېرا او الله تر منځ پرده نشته. عن ابن عباس رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم بعث معاذاً إلى اليمن فقال: اتق دعوة المظلوم، فإنها ليس بينها وبين الله حجاب. رواه البخاري(۲٤٤۸)ومسلم(۱۹).

د مظلوم د ښېرا او الله تر منځ پرده نشته. یعنې سمدلاسه یې قبلوي، نورو روایاتو کې راغلي چې مظلوم ان که فاسق او فاجر هم وي الله تعالی یې ښېرا قبلوي ! بله مهمه خبره دا ده چې مظلومان د واکمنو په دروازو کې زیات پیدا کېږي ، ځکه رسول الله ﷺ د یمن نوي ټاکل شوي والي ته توصیه کوي چې د مظلوم له ښېرا ځان ساته. بناءً هر مسؤل دې په پوره جدیت او توجه سره له هغه تېز غشي (د مظلوم ښېرا) نه ځان ساتي چې هدف ته رسوونکی یې الله تعالی دی!

## آزادی ارزشی که به ...

وآزادی کشــور را ،زیرا تجربه نشــان داد، انســان های که بخاطر چنــد روز مقام ومنصب دنیایی هم معنویت وهم شرافت خودرا زیرپا گذاشــتند وتن به معامله دادند. هم دنیا وهم آخرت شــان برباد رفت ونه تنهــا که تاریخ آنان وکارنامه های پلید وزشــت شــان را فراموش نخواهــد کرد ،بــل درآخرت نیز شرمســار منفعل خواهدبود.پس ای هموطن !باید ازگذشــته وکارنامه های آنانی که به دنیا دل بســته بودند، آموخــت وفرصت های کنونــی را غنیمت شــمرد، زیرا با اندک ترین اشتباه خون های که برای آزادی واستقلال کشور دراین همه سالها ریخته شد به هدر خواهد رفت که درآنصورت پشیمانی سودی نخواهد داشت.درســت اســت که تعامل با جامعه جهانی درحکومت ها یک اصل است ،اما روابط با کشورهای خارجی باید روابط دولت با دولت وحفظ ارزشهای اسلامی وملی باشد ،چون دشمن درکمین نشسته ، منتظر فرصت اســت وهرازگاهی به دنبال توطیه ودسیسه می گردند.

## مور د خوکۍ لپاره ...

دغــه راز ویلي، چې د تېر شــل کلن جهــاد د بريا راز د افغان مجاهدينو د سربښــندنو او د ولس د صبر پايله وه او نوموړي د دغه صبر او سربښندنو ستاينه کړې ده.نوموړي د اســلامي امارت له چارواکو څخه په خپلو چارو کې د محتاطانه عمل ترسره کولو غوښتنه کړې ده.هغه دغه راز په تېر شل کلن جهاد کې د روزګان د ولسونو او مجاهدينو ته هم اشــاره کړې او ويلي يــې دي، چې د دغه ولايت ولسونو او مجاهدينو د پام وړ قرباني ورکړې ده.

## ديدار۲۷۰۰ گردشگر خارجی ...

گردشگری باید فرهنگ بومی و اصیل منطقه و داشته های تاریخی-طبیعی به گونه ای حفاظت و مدیریت شوند که بتوانند رضایت ســیاحین را فراهم کرده و آنان را ترغیب به سفر دوباره به این مناطق نماید. سرپرست وزارت اطلاعات وفرهنگ افزوده: دستیابی به توسعه صنعت گردشگري در یک شهر یا یک کشور، نیازمند یک راهکار منطقی و همراه با مدیریت فعال و برنامه ریزی مفید با درنظرداشــت تمام منابع موجود اســت که این برنامه را امارت اسلامی روی دست دارد تا توجه گردشگران به جاذبه‌های تاریخی کشور بیشتر جذب گردد.

## پوهنتونونو کې ۸۵۰ نوي ...

چــې دغه وزارت په هېواد کې د نه د ماســټرۍ او دوکتورا پروګرامونو د رامنځته کولو په برخه کې د پام وړ کار کــړی دی. د لوړو زده کړو وزارت چارواکو په خپلو خبرو کې وويل، چــې په تېر يوه کال کې ۳ د دوکتورا او ۱۵ د ماســټرۍ نــوي پروګرامونه پيل شــوي،چې پــه دې سره اوس د هېواد په کچه ټولټــال ۹ د دوکتورا او ۴۰ د ماســټرۍ پروګرامونه پيل دي.

## کار سرک اتصالی بادام ...

ســرک مناطقی از نواحی چهارم، پنجم و هفدهم شهر کابــل را با هــم و صل می کنــد که با تکمیــل کار آن ســهولت های لازم برای عبور و مرور شهروندان فراهم خواهد شد.

## مدافع وکيلانو او خلکو ...

ارخونو کې شــفافيت رامنځته او متقاضيانو ته ښه خدمتونه وړاندې شي او لازمې آسانتياوې مو ورته برابرې کړې دي.» هغه د دفاع وکالت جواز متقاضيانو ته سپارښتنې وکړې چې نيت يې يوازې د پيسو پيدا کول نه وي، بلکې د هغوی نيت بايد ټولنې ته د ښو خدمتونو وړاندې کول وي. دغه راز دوی بايد هڅې وکړي چې په اســلامي او خلکو ته د خدمت په عقيدې ســره ټولنې ته داخل شي او خپل سيرت او صورت اصلاح کړي.مســلکي معين ژمنه وکړه چې عدليې وزارت به پــه اړوندو برخو کې مدافعو وکيلانــو او خلکو ته زياتې آســانتياوې برابرې کړي.دغه راز د عدليې وزارت د مدافعو وکيلانو رئيس مولوي سيد حبيب الحبيب، دسوالونو د ترتيب او قرنطين او د انتخاب د څرنګوالي، د سوالونو او ځوابونو د شــمېر او همدا رنګه د آزموينې د شرايطو په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړل او په آزموينه کې يــې د روڼتيا داد ورکړ.د يادونې وړ ده چې د دفاع وکالت د ورودي آزموينې په دويمه دوره کې، د وکالت دفاع د جواز شــاوخوا ۷۵۰ متقاضيانو د آزموينې فورمې اخيستې وې چې له دې جملې څخه ۷۲۳ تنه د آزموينې په شرايطو برابر کسان پېژندل شوي وو.

## آغاز دوباره فعالیت سازمان ...

عودت مهاجرین افغان از کشــور های خارجی است از سر گرفت.سازمان مهاجرت با بازگشــایی دفتر خود در قندهار متعهد به ارائه خدمات برای عودت کنندگان شــده اســت، همچنان طرف افغانی و نماینده سازمان یاد شده قبول کرده اند

## کندز کې ۲۹ حقوقي او جزايي ...

ويلي، چې دغه شکايتونه د خلکو له لوري له چارواکو څخه او يا هم عام ولــس له نورو څخه کړي، چې په دقيقه توګه به ورته رسېدنه وشي.غفوري ډاډ ورکړی، چې د ولسونو هر ډول شکايت ته به پر وخت رسېدنه وکړي.نوموړي زياته کړې، چې د دغه رياست ټولو محتسبينو ته يې امر کړی، تر څو له خلکو سره نرم چلند وکړي او شکايتونه يې په غور سره واوري.

## بغلان کې د ځينو دولتي ...

د ټولګټو چارو، عامې روغتيا او د پلخمري ښاروالۍ رياست د ۱۴۰۰ او ۱۴۰۱ مالي کالونو د عوايدو او لګښتونو د تحقق څرنګوالی دی، چې په اساســي ډول به يې د اداري او مالي چارو ارزونه وشــي.مجيدي زياته کــړه چې دغه پلاوی به د مرکزي بغلان ولســوالۍ او امنيــه قومندانۍ څخه هم د اســلامي امارت د حکمونو او لارښوونو په رڼا کې، د کاري معيارونو سره سم تفتيش او نظارت ترسره کړي.د يادونې وړ ده، چې د بغلان والي د اړوندو ادارو استازو او مسوولينو ته سپارښــتنه کړې چې د چارو د ارزونــې په برخه کې دې له استول شوي پلاوي سره په جدي توګه همکاري وکړي.

## سفارت افغانستان در ...

که پیــش از ایــن وزارت امور خارجه بــه منظور خدمات بهتر بــرای افغانــان مقیم در خــارج و با در نظر داشــت مشــکلات اقتصادی آنــان، از کاهش هزینه پاســپورت خبر داده بود.

## جمعاوری مواد خوراکی ...

بسکیت، شامپو، صابون، نوشابه ها، کچپ و انواع مواد بهداشــتی و شوینده اســت.همچنان در جریان بررسی هیئت کنترول شــاروالی کابل، یک تعداد بلند گو ها که عامل آلودگی صوتی اند نیز جمع آوری شــده اســت. مــواد متذکره به خاطر از بین بــردن به محل مخصوص آن انتقال داده شده است. هیئت کنترول شاروالی کابل، از عموم شــهروندان میخواهد کــه در هنگام خرید مواد خوراکی و بهداشتی به تاریخ مصرف و کیفیت آن توجه داشته باشند و از فروشندگان تقاضا دارد که از فروش مواد بی کیفیت و تاریخ گذشته جداً خود داری کنند.

## ايران کې افغان کډوالو ...

د حل لپاره په تهران کې د پاسپورتونو د وېش بهير پيل شو. دغه راز په پام کې ده، چې لومړی د پاسپورتونو د وېش بهير هغو نويو زېږېدليو ماشومانو ته پيل شي، چې الکترونيکي تذکره يا هم د کوربه هېواد اقامتي سند ولري وېشل کيږي.

# ننګرهار کې ۱۵۰ ټنه بې کيفيته غوړي يوې فابريکې ته سپارل شوي



د خــوړو او درملو اداره وايي، ننګرهار کې يــې ۱۵۰ ټنه بې کيفيته غوړي د صابــون جوړولو يوې فابريکې ته ســپارلي دي. د دغې ادارې وياند جاوېد هڅير ويلي چې دغه بې کيفيته غوړي يې د ننګرهار په ګمرک کې ضبط کړي دي. که څه هم هڅير دا نــه دي ويلي، چې دا بې کيفيته غوړي چېرته توليد شوي وو، خو د ننګرهار له ګمرکه تر ډېره د پاکستان توليدي توکي افغانستان تــه راځي. د خوړو او درملو اداره وايي، د دوی لابراتوارونو مشــخصه کړې چې له دغو بې کيفيته غوړيو اســتفاده د انسان وجود ته زيان اړوي.

## د بريکس غونډه د ولادیمير...

او د همدې مياشــتې تر ۲۴ مې نېټې پورې دوام وکړي.د راپورونو پر اساس په دغې سرمشــريزه کې بــه د بريکس ټرون د پنځو غــړو هېوادونو له ډلې د چيــن، هند، برازيل او ســويلي افريقا هېوادونو مشــران په حضوري او د روســيې ولسمشــر ولاديمير پوتين به په انلاين ډول ګډون وکړي. مســکو ويلي، د روســيې له لوري به په دغې ناســته کې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف پــه حضوري ډول ګــډون وکړي.بايد وويل شــي، چې ولاديمير پوتين پــه اوکراين کې د وراني جګړې له امله د جرمونو نړيوالې محکمې په امر د نړيوالو پوليســو تر څار لاندې دی او له همدې امله نه شــي کولی له روســيې بهر سفر وکړي.نړيوالو رسنيو خبر ورکړی، چې د بريکس سرېنۍ سرمشــريزې ته د ۵۴ افريقايي هېوادونو مشران او استازي هم وربلل شوي او د نړۍ ځينې نور هېوادونه لکه ســعودي عربستان او ايران بيا هڅه کوي د دغه ټرون غړيتوب ترلاسه کړي.

## پاکستان کې د پښتون...

پر وړاندې د پاکستان د حکومت تاوتريخوالی بللی دی. د يادونې وړ ده چې د تېرې جمعې په ورځ د پښتون ژغورنې غورځنګ غړو په اسلام اباد کې ستر لاريون کړی و، چې د خپلو حقونو غوښتنه يې کوله.

## ايران پذيرفت که خشکسالی...

سهم بوده و این سهم حق قانونی ما است که مطالبه می‌کنیم.»حسن کاظمی قمی، نماینده ویژه ایران در امور افغانســتان نیز اعلام کرده اســت که میزان جریان آب در ایســتگاه آب ســنجی دهراوود در ماه اســد سال جاری کمتر از میزان ماهانه یک ســال آبی نرمال گزارش شــده است.تنش‌ها میان ایران و امارت اســلامی در ماه های اخیر پس از آنکه تهران کابل را متهم به محدود نمودن جریــان آب کرد، افزایش یافت.به تازگی، مولــوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی گفت که «مسئله آب با ایران به جای جنگ، با خوشحالی زیاد، با تفاهم حل شده است.»

## لوګر کې څه باندې ۷۰۰ نوي ښوونکي ...

کې د پوهنې رياســت له لوري له سلګونه کسانو څخه ازموينه واخېستل شوه. نوموړي همداراز وويل، ياد کســان بــه په مرکز پل‌علم او د لوګــر په لرو پرتو ولســواليو کې په ديني مدرسو کې د ښوونکو په توګه دنده کوي.بايد وويل شي چې تېره ورځ د لوګر د پوهنې رياست مسوولانو سلام‌وطندار ته په ورکړل شويو معلوماتو کې ويل شوي و چې تازه يې په مرکز پل‌علم او د دغه ولايت په لرو پرتو ولسواليو کې ۶۶ نوې ديني مدرسې پرانېستلي دي.

## والی فارياب خواستار ساخت...

آشــامیدنی به باشنده‌گان آن ولایت بحث و گفتگو شد٬ والی فاریاب خواستار همکاری مسئولان ارشد امارت اسلامی در این موارد شد.معاون اداری ریاست الوزرا گفت: اگرچه کارکردها و فعالیت‌های مســؤلان محلی در فاریاب و غزنی جهت خدمت رسانی به باشنده‌گان این ولایت‌ها و تأمین امنیت آنان مورد تحسین است، اما برای بهبود بیشتر وضعیت باید کار های بیشتری صورت گیرد.مولوی عبدالســلام حنفی٬ دسترســی به خدمات صحی، تامین آب آشامیدنی پاک و ساخت راه‌های مواصلاتی را حق مردم و تعهدات امارت اسلامی خواند و افزود که مسؤلان امارت اسلامی در حد توان در زمینه تلاش خواهند کرد.

## افغانستان کې بهرنی ...

هکلــه ډاډ ورکړ. پــه ورته مهال، د نوموړي شرکت مســوولينو هم د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې د بېلابېلو پروژو په ځانګړې توګه د اوبو او انرژۍ پروژو د پلي کولو په برخــه کې د پانګونې لپاره چمتووالی څرګند کړ.

## وزارت صحت عامه متعهد ...

روده) نیــز داده خواهد شــد.منبع می افزایــد که این کمپاین در زون شــمال، با یک هفته تاخیر آغاز می‌شــود.قلندر عباد، سرپرســت وزارت صحت عامه ثبت واقعات مثبت پولیو در افغانستان را نگران کننده خوانده و می گویدکه این وزارت، متعهد اســت تا مرض پولیو را در کشــور محو کند.بر اســاس معلومات وزارت صحت عامه، در جریان ســال جاری میلادی پنج واقعه مثبت پولیو در افغانستان ثبت شده است.

## حکومت د سکرو ګمرکي محصول ...

ســکرو د پلور بيه يې هم لــه دوه نيم زره افغانيو ۲۲۰۰ تــه راټيټه کړې ده.د کانونو او پيټروليم وزارت نه دي ويلي چې ولې يې د صادراتي سکرو ګمرکي محصول کم کړی دی.د افغانســتان سکاره پاکســتان ته صادرېږي او له دې وړاندې هم د طالبانو حکومت د ســکرو ګمرکي محصول کم کړی و.د ســږ (۱۴۰۲) کال پــه لومړيــو څلور مياشــتو کې د ۵ ميليون ډالرو په ارزښــت ۴۹۷۰۰۰ ټنه سکاره پاکستان ته صادر شوي دي.

## د کتابونو د ارزونې ...

په کمېسيون کې د يو ټوک ترکي تفسير شريف چې هېواد ته وارد شوی و، ارزونه ترسره شــوه او هغه کتابونه چې په تېره ناسته کې د کمېسيون غړيو ته د ارزونې لپاره ورکړل شوي وو؛ راټول شول.هېره دې نه وي چې په دې ناسته کې د شپږو مياشتو په بهير کې د کتابونو ارزونې کمېسيون د فعاليتونو او کارونو بررسي هم ترسره شوه.

## د پوهنې وزارت يو کلنۍ ...

د معلوماتو له مخې، د همکارو موســســو په مرســته پــه درې زره او ۷۸۰ کليــوالي او چټکــو زده کړو ټولګيو کــې ۹۵ زره او ۷۵ تنه او راستنو شويو او داخلي بېځايه شويو ۳۹ زره او ۱۱۴ تنه ته د زده کړې زمينه برابره شوې.د نتايجو برېښــنايي کېدو ملي پروسې پرانيستنه، د شهادتنامو د چټک وېش په موخه له افغان پست شرکت سره د تفاهم ليک لاســليکول، په ۳۴ ولايتونــو کې د شــهادتنامو د الکترونيکي سيستم فعالول، د ۲۳۹ ښوونيزو نهادونو د بيارغونې پروژو بشپړېدل، د عملياتي پلان بشپړ تطبيق، د ۲۱ زره او ۴۷۷ کارکوونکو او ښوونکو ګمارنــه، د اســلامي زده کړو پروګرام کې د يو زر او ۱۰۷ اســتادانو ګمارنــه، له کورنيو او بهرنيــو همکارو موســســو سره د ۱۲۳ تفاهم ليکونو لاســليکول، په اته ولايتونو کې د ۱٦ ښوونځيو جايدادونه او د لوګر ولايت د ښــوونکو ښــارګوټي يو زر او ۵۷۸ جريبه ځمکه د غاصبينو له منګولو را ګرځول د پوهنې وزارت له لاســته راوړنو څخه دي.

## د فارياب او غزني د خلکو ...

د څنباک پاکو اوبو برابرولو په موخه د اوبو بندونو جوړولو په څېر موضوعاتو يې بحث کړې او د اســلامي امارت له رهبري څخه يې غوښــتې چې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.مولوي عبدالسلام حنفي دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ د دې ولايتونو ولســونو ته د امنيت د تامين او خدمت په برخو کې د دوی کړنې او فعاليتونه ســتايلي او ويلي يې دي، چې په ټولو برخو کې بايد د اسلامي امارت مجاهدين د خلکو د امنيت د ټينګښت، هوساينې او خدمت په برخو کې خپلې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې جاري وساتي.د رياست الوزرا اداري مرستيال امنيت، روغتيا، د څنباک پاکو اوبو او معياري مواصلاتي لارو ته لاسرسی د خلکو حقوق او د اسلامي امارت ژمنې بللي او زياته کړې يې ده، چې اسلامي امارت مسولين به خپلو امکاناتو ته په کتو يادو ستونزو ته د حل په موخه رسيدنه وکړي.

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې

د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦

مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ

شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Shariat Daily

Tuesday 22 August 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 247


## د ناقانونه او بې کیفیته درملو د مخنیوي کړنلاره منظوره شوه



د اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند، د دوی د رژیم د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې د بې کیفیته او ناقانونه درملو د وارداتو د مخنیوي کړنلاره تصویب کړې ده. د نوموړې مطبوعاتي دفتر ویلي چې په دغه غونډه کې د ملي پراختیا ستراتیژۍ پر جوړولو، د سرو زرو قاچاق د مخنیوي په اړه هم خبرې شوې. د اسلامي امارت له واکمنیدو سره، په ځینو اصلاحي برخو کې د پرمختګونو خبرونه ورکول کېږي.

## د فاریاب او غزني د خلکو کړنې او فعالیتونه وستایل شول

د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د فاریاب له والي ملا محمد شعیب او د غزني امنیه قومندان مخدوم محمد عالم رباني سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې داملا محمد شعیب او مخدوم محمد عالم رباني د فاریاب او غزني ولایتونو د امنیتي، جتماعي او حکومتي چارو په برخو کې د ریاست الوزرا اداري مرستیال ته معلومات ورکړي. یادو مسولینو زیاته کړې، دوی او د اسلامي امارت ټول مجاهدین د ولسونو د امنیت



تامین او خدمت برخه کې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کوي او په وینا یې دې لار کې به هیڅ راز هڅې دریغ نکړي. دغه راز یې د سراسري امنیت، روغتیا، مواصلاتي لارو ترڅنګ خلکو ته ۵مخ

## د پوهنې وزارت یو کلنې کړنې او لاسته راوړنې له ملت سره شریکې شوې

د پوهنې وزارت مسولینو ملت ته د دولت حساب ورکولو لړۍ په دوام خپلې یو کلنې کړنې او لاسته راوړنې له رسنیو سره شریکې کړې. د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو مرستیال مولوي کرامت الله اخندزاده ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام کې ویلي؛ زده کړې ته د لاسرسي په موخه د هېواد په کچه ۱۲۱ نوي ښوونځي جوړ شوي، چې له دې سره د عمومي زده کړو د دولتي اوخصوصي ښوونځیو شمېر ۱۸ زره او ۱۰ ته رسیږي. د نوموړي په وینا، د عمومي زده کړو د ټولو زده کوونکو شمېر ۱۰ مېلیونه ۱۸۹ زره او ٦۳۴ تنو ته رسیږي. ښاغلي اخندزاده زیاته کړې، په ټولیز ډول ۳۳۰ زره او ۹۵۰ تنه طالب‌العلمان دي، چې په یو زر او ۱۴۲ مرکزونو کې په زده کړو بوخت دي. مولوي کرامت الله اخندزاده ویلي، د هېواد په کچه ۲٦.۲ مېلیونه د عمومي زده کړو کتابونه وېشل شوي او همدارنګه له ۱٦ زره او ۳۰ ښوونځیو، دوه زره او ۴۴۱ کلیوالي او چټکو زده کړو ټولګیو او ۳۸۹ د سواد زده کړې له کورسونو څخه خارنه شوې ده. د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو مرستیال ۵مخ

## د کتابونو د ارزونې کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو د معین مهاجر فراهي په مشرۍ، پرون د کتابونو د ارزونې کمېسیون غونډه ترسره شوه.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دې غونډه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دولتي ورځپاڼو، پر نشراتو د څار، د بیهقي کتاب خپرولو او د دعوت او ارشاد رئیسانو او همدا رنګه د پوهنې، حج او اوقافو، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او د لوړو زده کړو وزارتونو، د علومو اکاډمۍ، د افغانستان د ناشرانو ټولنې استازو او د کمېسیون نورو غړیو ګډون کړی و. د کتابونو د ارزونې کمېسیون په ناسته کې د نشراتي چارو معین مهاجر فراهي، د دغه کمېسیون کړنې مثبتې وارزولې او د کمېسیون فعالیتونه یې وستایل. دغه راز ۵مخ

## ایران کې افغان کډوالو ته د پاسپورټونو د وېش بهیر پیل شو



د سرپرست حکومت د بهرنیو چارو وزارت خبر ورکړی چې په تهران کې افغان سفارت د پاسپورټ د وېش بهیر پیل کړی دی. یاد وزارت داډ ورکړی چې ډېر ژر به په بهر کې د نورو افغانانو لپاره هم د پاسپورټ د وېش بهیر په عادي ډول پیل شي. د یاد وزارت د ویاند مرستیال حافظ ضیا احمد تکل ویلي؛ د یاد فرمان پر بنسټ د بهرنیو چارو وزارت مقام له سپارښتنې سره سم په ایران کې د پاسپورټ لپاره د افغان کډوالو د اړتیاوو ۵مخ

## حکومت د سکرو ګمرکي محصول له ۴۵ څخه ۳۰ ته راټیټ کړ



اسلامي امارت د سکرو د صادراتو ګمرکي محصول په هر ټن کې ۱۵ ډالره کم کړی دی. د حکومت د کانونو او پیټرولیم وزارت ورمه په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د دوی د حکومت د مشرتابه د حکم پر اساس د هر ټن سکرو ګمرکي محصول له ۴۵ ډالرو ۳۰ ډالرو ته کښته کېږي. دغه وزارت همداراز وایي چې د هر ټن ۵مخ

## افغانستان کې بهرنی شرکت د برښنا پر تولید پانګونه کوي

د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر د اس. کا. ام هواسلیک انونیوم شرکت د مدیره پلاوي له رییس دوکتور عباس رسول زاده فرساد سره له بېلابېلو سرچینو څخه د برښنا د تولید، لېږد او وېش په برخه کې د پانګونې په موخه د دوه اړخیزې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ. د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر د یاد هوکړه لیک د لاسلیکولو پر مهال په افغانستان کې د اوبو او انرژۍ پروژو په برخه کې د دغه شرکت د پانګونې له لېوالتیا څخه د هرکلي ترڅنګ، هغوی ته د پانګونې لپاره د زمینې د چمتوکولو په برخه کې د دغه وزارت د همکاریو په ۵مخ

## والی فاریاب خواستار ساخت بند های آب گردان شد

داملا محمد شعیب، والی فاریاب در دیدار با مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا خواستار ساخت بند های آبگردان در آن ولایت و تامین آب آشامیدنی برای باشندگان شهر میمنه شد. دفتر مطبوعاتی معاونیت ادرای ریاست الوزراء، در خبرنامه‌یی نوشته است که دا ملا محمد شعیب طی دیدار با مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا این خواست ها را مطرح کرده است. در خبرنامه آمده است: در این دیدار که مخدوم محمد عالم ربانی، قومندان امنیه غزنی نیز حضور داشت' روی مسایل چون ارائه خدمات صحی برای باشندگان فاریاب' ساخت راه‌های مواصلاتی و تأمین آب ص۵

## قلندر عباد: وزارت صحت عامه متعهد است تا مرض پولیو را محو کند



کمپاین واکسین پولیو (فلج اطفال) دیروز در سراسر افغانستان آغاز گردید که قرار است در جریان آن بیش از یازده میلیون کودک زیر پنج سال، در برابر این ویروس واکسین در یافت کنند. بر اساس اعلامیه وزارت صحت عامه، این کمپاین تا یک هفته ادامه دارد و علاوه بر واکسین پولیو، برای کودکان ٢٤ تا ٥٦ ماهه تابلیت میبندازول(تابلیت ضد کرم ۵مخ

## لوګر کې څه باندې ۷۰۰ نوي ښوونکي پر دندو ګومارل کېږي



د لوګر د پوهنې ریاست چارواکي وایي چې د یاد وزارت د رهبرۍ د حکم له مخې د لوګر مرکز پل‌علم ښار او ولسوالیو دیني مدرسو ته ۷۱۲ ښوونکي ګومارل کېږي. د لوګر پوهنې ریاست ویاند شاه پور عرب سلام‌وطندار ته وویل چې د لوګر ۱۵۹ دیني مدرسو لپاره څه باندې ۷۱۲ نوي ښوونکي پر دندو ګوماري. عرب زیاته کړه چې د یادو بستونو لپاره په مرکز پل‌علم ۵مخ

## کاهش ۹۰ درصدی حاصلات انگور در قندوز

مسئولان در اداره زراعت قندوز می گویند که حاصلات انگور این ولایت در سال جاری بنا به سردی هوا، ۹۰ درصد کاهش یافته است. صلاح الدین واحدی، مدیر ترویج امور زراعتی ریاست زراعت قندوز به رسانه ها گفت: در سال جاری حاصلات انگور حدود یک هزار و ۵۶ تن تخمین شده که نسبت به سال گذشته کاهش ۹۰ درصدی حاصلات را نشان می دهد. به گفته ی او، سال گذشته ده هزار و ۵۶۰ تن انگور در این ولایت برداشت شده بود. واحدی علت اصلی کاهش حاصلات انگور را در سال جاری سردی بیش از حد هوا در زمستان سال گذشته عنوان کرد و گفت که درختان انگور در مقابل سردی مقاومت ندارند و زود ازبین می روند.

## ایران پذیرفت که خشکسالی در افغانستان «جدی» است

وزیر انرژی ایران در مورد حقابه این کشور از دریای هلمند گفته است که ارزیابی تیم تخنیکی ایران در ایستگاه آب سنجی دهراوود نشان می‌دهد که خشکسالی در افغانستان نیز جدی است. به گزارش خبرگزاری ایسنا، علی اکبر محرابیان گفت: «اخیراً همکاران ما بازدیدی از ایستگاه آب‌سنجی دهراوود هیرمند (هلمند) انجام دادند. این بازدید نشان داد خشکسالی در افغانستان نیز جدی است.»او تاکید کرد: « اما به نسبت میزان بارشی که در کشور افغانستان شده در منطقه حوضه آبریز هیرمند (هلمند) ایران دارای ص۵

## پاکستان کې د پښتون ژغورنې غورځنګ لسګونه غړي نیول شوي

وروسته تر هغې چې د پښتون ژغورنې غورځنګ غړو په اسلام اباد کې لاریون وکړ، تازه د پاکستان حکومت د یاد غورځنګ لسګونه غړي نیولي دي. په نیول شویو کسانو کې د بشري حقونو فعاله ایمان زینب، مخکښ سیاستوال علي وزیر، ګیله‌من پشتین، نورزاده محسود، جمال مالیار او ګڼ شمېر نور پېژندل شوي غړي نیولي دي. د یاد غورځنګ مشر منظور احمد پښتین دا کړنه یو غیر انساني عمل بللی او ویلي یې دي، چې هیڅ وخت به دوی له سوله‌ییزې مبارزې لاس په سر نه شي. په همدې حال کې د پاکستان د بشري حقونو کمېسون هم د پښتون ژغورنې غورځنګ د غړو نیول کېدل غیر قانوني او د نه منلو وړ عمل بللی او دا کار یې د بشري حقونو ۵مخ

## د بریکس غونډه د ویلادیمیر پوتین له ګډون پرته ترسره کېږي



ټاکل شوې د رواني اګست میاشتې پر ۲۲ مه د سویلي افریقا په جهانزبرګ ښار کې د بریکس ټرون اقتصادي غونډه پیل ۵مخ